بسم الله الرحمن الرحيم

# مسلمان حکام د شرابو د خرڅلاو ملاتړ کوي؛ خو د مسلمانانو د ژوند نه

**خبر:**

ابوظبي په متحده عربي اماراتو کې خپل د الکولو د تولید لومړی مرکز پرانیست. د دغه کاروبار لپاره قانوني جواز صادر شوی. متحده عربي اماراتو د الکولو پر محصولاتو ۳۰ سلنه مالیه وځنډوله. د پلورنځیو لپاره د جواز ورکولو مقررات هم اسانه شوي. توجیه یې د لا ډېرو سیلانیانو راجلبول او د مالي تنوع او کلتوري شمولیت رامنځته کول دي.

**تبصره:**

په داسې حال کې چې مسلمانانو ته خوراکي توکي او درمل نه رسېږي؛ د امت میلیاردر مشران د نامسلمانانو لپاره د ساتېرۍ رامنځته کولو په فکر کې دي او په ورته وخت کې د سیمې مسلمانانو لپاره یوه حرام څه ته تبلیغ کوي.

د خیانت دغه ډول کړنې باید په زغرده او روښانه افشا شي؛ ځکه امت په نړیواله کچه له زیاتېدونکو بریدونو سره مخ دي. په سره بحیره کې د یهودي ادارې د کښتیو لارو ګډوډولو پر وړاندې امریکا او انګلستان په یمن کې د بمباریو نوې لړۍ پیل کړې. دا د خلافت تر سیوري لاندې د ستر پوځ نه، بلکې د مسلمانانو فردي زړورې کړنې دي چې د دښمن پر وړاندې یې موقف نیولی.

موږ نه غواړو چې سرچینې مو بېځایه وکارول شي او پوځونه مو بېکاره او تنبل پرېښودل شي؛ الله سبحانه و تعالی دا منع کوي چې خویندې او وروڼه مو دښمن ته یوازې پرېږدو.

**«وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا»** [النساء:۷۵]

**ژباړه:** *«ولې د الله په لاره کې د بېوسو نارینه‌وو، ښځو او ماشومانو د (خلاصون) لپاره نه جنګیږئ چې (په چغو) وایې: پروردګاره! موږ له دغه ښار او سمیې چې اوسیدونکي یې ظالمان دي(او پر موږ ظلم کوي) وباسه او له خپل لوري مرستندوی راولیږه(ترڅو له موږ سره مرسته وکړي).»*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې مسلمانان د واحد بدن په څېر دي؛ که یې یو غړی درد وکړي، ټول بدن دردېږي. د دوزخ اور د هغو حکامو په تمه دی چې د قرآن او سنتو د احکامو پر وړاندې غفلت کوي. موږ باید د ربښتیني حللارې لپاره د کارکولو غږ پورته کړو؛ ترڅو دغه حکام په ښکاره د اسلامي احکامو د سپکاوي پرېکړې و نه کړي؛ ظالمان زموږ پر دین، اسلام و نه خاندي او زموږ د خاورو او ذهنونو د نیولو جشن و نه لمانځي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## عمرانه محمد

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د رجب ۱۱مه**

**۲۰۲۴م کال، د جنوري ۲۳مه**